AMSO
Afghanistan Media Support Organisation

د طالبانو په ۵ کلنه واکمني کې د افغان رسنیو ارزونه؛

د جولای له ۱۰ مې د اګست تر ۱۰ مې د ننګونو بېلګې

سریزه

په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال له اګسټ میاشتې راهیسې د طالبانو بیا واکمنېدو سره، د هېواد رسنیز وضعیت له پراخو ننګونو او بدلونونو سره مخ شو. د کاري چاپېریال تنګېدل، قانوني ابهامونه او مالي ننګونې د دې لامل شوې چې د افغان ژورنالېزم تېره ۲۰ کلنه لاسته‌راوونه د ورکېدو تر پولې ورسوي.

د افغانستان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO) د مستندو ثبت شویو راپورونو په پام کې نیولو سره، د رسنیز وضعیت مهم پوړونه او تایید شوي ارقام په لاندې توګه تحلیلوي:

د مطبوعاتو د ازادۍ په شاخص کې پرځېدل:

د بې‌پولې خبریالانو سازمان (RSF) د مطبوعاتو د ازادۍ د کلني شاخص له‌مخې، افغانستان تر ۲۰۲۱ کال مخکې د ۱۸۰ هېوادونو په کچه په ۱۲۲م مقام کې و، خو د طالبانو تر واکمنېدو وروسته په پرله‌پسې توګه لاندې لاړ او ۱۷۸م مقام ته ولوېده. دا ۵۶ درجې لوېدل د رسنیزو ازادیو د وضعیت د پام وړ خرابوالي او د محدودیتونو د سختوالي روښانه ځرګندونه کوي.

د رسنیو ټړل کېدل، د دندو نشتوالی او د سلګونو کادرونو مهاجرت:

تر ۲۰۲۱ کال وروسته د ډېرو مطبوعاتي کادرونو د وتلو او د مالي بسپنو د بندېدو له امله له ۴۰ سلنې تر ۵۰ سلنې پورې چاپي، غږیزې او تصویري رسنۍ په بشپړ یا موقت ډول بندې شوې چې له امله یې سلګونه مسلکي خبریالان او تخنیکي کارکوونکي بې‌کاره او جبري کډوالۍ ته اړ شول. د بې‌پولې خبریالانو سازمان (RSF) د ۲۰۲۶ کال د جون د ۱۹مې د راپور له مخې، افغانستان د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له ۱۵مې راهیسې د خبریالانو د «جبري تبعید نړیوال مرکز» ګرځېدلی دی. د RSF د نړۍوال مرستندویه پروګرام له لوري د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۵ کلونو ترمنځ له پراخو خطرونو وروسته په ټوله نړۍ کې د اخراج شویو ۱,۴۶۸ خبریالانو له جملې نه ۶۷۷ یې افغان خبریالان وو چې دا ارقام په نړۍواله کچه د اراپس‌اېف د مرستې تر پوښښ لاندې د ټولو تبعیدشویو خبریالانو نږدې نیمایي برخه (۴۶ سلنه) ته رسېږي او اوس مهال په ۲۸ بېلابېلو هېوادونو کې میشت دي. له هېواد نه د وتلو ترټولو لوړه څپه په ۲۰۲۲ کال کې وه چې ۱۸۳ خبریالان د افغانستان پرېښودو ته اړ شول.

د ښځینه خبریالانو شدید کمښت:

پر ښځینه خبریالانو او کارکوونکو د لګول شویو لارښودونو (ډیرکټیفونو) له امله، په رسنیو کې د ښځو ګډون خورا محدود شوی دی. تر ۸۰ سلنې ډېرې ښځینه خبریالانې له رسمي کاري ډګره بهر شوې دي او دمګړۍ د هغوی حضور د مرکزي سیمو په ځینو رسنیو کې تر سختو حجابي او کاري مقرراتو لاندې لیدل کېږي.

کاري امنیت او فشارونه:

د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (UNAMA) د راپورونو پر بنسټ، په تېرو کلونو کې هر کال د رسنیزو تخلفاتو او نیونو لسګونه پېښې چې احصائیې یې په کال کې له ۱۵۰ تر ۲۰۵ پېښو پورې رسېږي، ثبت شوې دي. دغو نیونو، ساحوي استنطاقونو او د امربالمعروف لارښودونو په خبري خونو کې د خودسانسورۍ (Self-censorship) روحیې ته لاره هواره کړې ده.

د امسو تحلیلي راپور موخه او مشخصه بېلګه (د جولای له ۱۰مې د اګسټ تر ۱۰مې)

د پورته ذکر شویو عمومي بهیرونو او ارقامو پر بنسټ، د افغانستان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO) د دې راپور له لارې غواړي وښیي چې دا څو کلن بهیرونه او پالیسۍ د یوې نږدې او مشخصې میاشتنۍ دورې په لړ کې پر ځمکنۍ کچه څنګه انځورېږي.

له همدې امله، د جولای له ۱۰مې د اګسټ تر ۱۰مې نېټې پورې د یوې میاشتنې ثبت شوي حقایق، د نیونو شمېرې او د ساحوي مخنیویو قضیې د یوې عملي بېلګې (Case Study) په توګه ارزیابي کېږي. دا پرتلنه به ثابته کړي چې عمومي تحلیلي تګلارې تر کومې کچې په لمس کېدونکي ډول خبریالان او خبري ارګانونه اغېزمنوي.

۱. د جولای ۱۰ - اګسټ ۱۰ د ساحوي پېښو او فشارونو تحلیل (Case Study)

د تېرو کلونو د عمومي پالیسیو، لارښودونو او تحمیلي قوانین پر دوام، د جولای له ۱۰مې د اګسټ تر ۱۰مې پورې ثبت شوي ساحوي معطیات او پېښې ښیي چې په بېلابېلو ولایتونو کې پر افغان رسنیو او خبریالانو غېرمستقیم او مستقیم استخباراتي، ساختاري او چاپېریالي فشارونه نوي او جدي ابعاد غوره کړي دي.

د تحلیل دا برخه ثابتوي چې په ولایتي او مرکز کچه د پېښو پر پوښښ سانسور، د خبریالانو استخباراتي ځارنه او د مالي او انټرنیزو فعالیتونو محدودول له وړاندې ټاکل شویو میاشتنیو تګلارو څخه دي.

۲. موضوعي تحلیل او د ولایتي پېښو قضیې

الف: استخباراتي فشارونه، تعقیب او د همکارۍ تحمیل - کابل، ننګرهار او بدخشان

د استخباراتي ملاتړ او د خبریالانو د په نښه کولو غوښتنه:

په کابل، ننګرهار او یو شمیر نورو ولایتونو کې طالب استخباراتو له سیمه‌ییزو خبریالانو، د رسنیو له مسؤلینو او د خبریالانو د ملاتړو بنسټونو له سیمه‌ییزو استازو غوښتي چې د دوی د نظام تر څنګ ودرېږي او له دغې ډلې څخه کلک ملاتړ اعلان کړي. په ورته وخت کې له دوی غوښتل شوي چې هغه خبریالان ورته نښه او معرفي کړي چې په بهر کې له مېشتو (تبعیدي) رسنیو سره کار یا پټه همکاري کوي.

له وسله‌والو نښتو وروسته امنیتي فشارونه - بدخشان:

په بدخشان کې د طالبانو او د دغې ډلې د مخالفو ترمنځ تر وروستیو نښتو وروسته، پر سیمه‌ییزو خبریالانو د ځار او فشار کچه خورا لوړه شوې چې د جګړې یا زیانونو حقیقي جزییات خپاره نه‌شي.

ب: په خبري پوښښ او موضوعاتو کې جوړښتي سانسور-کندهار، زابل هلمند، لوګر، خوست او پکتیا

د عامه خبرونو پر خپراوي بندیز:

په کندهار کې له خبریالانو غوښتل شوي چې په سپین بولدک کې د چپ لس موټرو د شتوالي له امله د سوداګرو له لوري د ادعا شویو شکایتونو له رسنیز کولو څخه ډډه وکړي. په هلمند کې د اطلاعاتو او کلتور ریاست خبریالان له دې منع کړي چې په نیمروز کې له تندې د قرباني شویو کسانو خبرونه نشر کړي. همداراز په زابل کې لارښوونه شوې چې د کابل-کندهار پر لویه لار د ټرافیکي پېښو خبرونه او مرګ‌ژوبله کمه راپور کړي.

تحمیلي خبري انحصار او پروپاګند:

په کندهار، خوست، لوګر او پکتیا کې د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو له خبریالانو غوښتي چې د دغې ډلې د واک ترلاسه کولو کلیزې پوښښ ته لومړیتوب ورکړي او خپله ټوله رسنیزه انرژي یوازې همدې موخې لپاره ځانګړې کړي.

ج: له قانوني چوکاټ پورته مداخله او د انټرنیزې ازادۍ استبداد- کندهار، زابل، ارزګان، ننګرهار، نورستان او هلمند پر کامرو او ثبت بندیزونه:

په زابل کې د عامې روغتیا په پروګرام او کندهار کې د کډوالو ریاست په ناسته کې خبریالان له انځور اخیستلو منع شوي دي. په ننګرهار کې د امر بالمعروف وزیر د غونډې پر مهال کامرې ترې واخیستل شوې او یوازې د غږ ثبتولو اجازه ورکړل شوې چې د دغه ډول استبداد له املې د ګڼو خبریالانو له لورې ناسته بایکاټ شوه.

ګواښونه او انځوریز توقیف:

په هلمند کې خبریالان د مور د شیدو ورکولو د کواپراتیف په ناسته کې د عکس اخیستلو له املې نیم ساعت توقیف شوي وو. په نورستان کې استخباراتو په سېلاب ځپلو سیمو کې خبریالان تر سخت څار لاندې ساتلي او هغوی یې مجبور کړي چې یوازې د طالبانو د کارونو توصیفي راپورونه چمتو کړي؛ یادې ډلې د شخصي مرستو ثبت شوې ویډیوګانې پرې پاکې کړي او د ویډیو ثبتوونکو ته د نیول کېدو ګواښونه شوي دي.

د: شخصي تعقیب او د رسنیو پر مالي حقونو خپته اچول-ارزګان او ننګرهار

شخصي حبس او ځورونه:

په ننګرهار کې د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې ولایتي استازی د امر بالمعروف محتسبینو لەخوا د خپل کور دننه د موسیقۍ غږولو په تور توقیف او زنداني شوی و. په ارزګان کې د طالبانو د والي ساتونکو د عامې روغتیا وزیر د سفر پر مهال له خبریالانو سره فزیکي تاوتریخوالی کړی او استخباراتو له بهرنیو رسنیو سره د اړیکو د درلودلو په تور یې له خبریالانو لیکلې ژمنې اخیستې دي.

مالي غصب او فساد:

په ننګرهار کې طالب چارواکو د یونېسف (UNICEF) په مالي او مسلکي پوهاوي پروګرامونو کې ځان ته غیرقانوني مالي برخه او سهم تحمیل کړی او تر هغې یې د روزنیزو پروګرامونو جوړیدو اجازه نه ده ورکړې ترڅو چې ورته دا پیسې نه وي منل شوې.

۳. د دې میاشتنۍ بېلګې تحلیلي پایله

د جولای له ۱۰مې د اګسټ تر ۱۰مې پورې راټول شوي حقایق ثابتوي چې:

۱. د استخباراتي اړانې تګلاره:

طالبان یوازې د خبرونو پر کنټرول بسنه نه، بلکې هڅه کوي خبریالان د تبعیدي او ازادو رسنیو پر ضد په یوه استخباراتي شبکه بدل کړي.

۲. له معمولي پېښو وېره:

د ترافیکي حوادثو، مالي ستونزو او طبیعي پېښو پر خپرواي بندیز نښیي چې حاکمه ډله د هر ډول هغې موضوع مخنیوی کوي چې د دوی موثریت تر پوښتنې لاندې راولي.

۳. ساختاري او فردي مداخلې:

په مالي پروګرامونو کې مداخله او د سیمه‌ییزو ولایتي استازو شخصي تحقیر ثابتوي چې د رسنیزو بنسټونو او ژورنالیستانو کاري خپلواکي له بې‌ساریو کورنیو او بربنډو ګواښونو سره مخ ده.

د افغانستان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO)